مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۱/۳۰

# درواغجنه او ریښتوني مور

د کوچني ماشوم مور مړه شوه. پلار يې دوهمه ښځه وکړه.

يوه ورځ پلار له زوی وپوښتل: بچو! نوې مور دې ښه ده، که پخوانۍ ښه وه؟

ماشوم په معصوميت ځواب ورکړ: پخوانۍ دروغجنه وه، اوسنۍ ريښتوني ده.

پلار وپوښتل:

هغه ځنګه؟

زوی وويل:

کله به مې هم چې څه شيطانی وکړ، مور به ويل: نن ډوډۍ نه درکوم، خو کله به چې د ډوډۍ وخت شو، له هر چا وړاندې به يې زما لاسونه مينځل او په خپلو ګوتو به يې مړی راکوله.

نوې مور يو ځل راته وويل:

که شرارت وکړې، نو ډوډۍ نه درکوم. ما وکړ او دا دی له سهار راهيسې وږې او تږی يم.

ژباړه

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ